مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حکیم روان

۲۰۲۰/۰۲/۱۴

طالبان باید سولې ته اړشي

څو پاکستان سولې ته اړ شوی نه وي ، طالبان به څوک سولې ته اړ نه کړي . دا ولې ؟
-پاکستانی واکمنانو په وار وار ویلی دی چې د افغانستان سوله د کشمیر سره تړلی ده . خو «خپلواکو طالبانو دا نه دی اوریدلي ؟ !»
پاکستان غواړي تر هغه طالبان وجنګوي ، څو د امریکا متحده ایالات د پاکستان په ګټه پر هند داسې فشارونه وارد کړي ، چې د کشمیر د مسألې په حل کې هند د پاکستان غوښتنې ومني . هله به په افغانستان کې د پاکستان د ستراتژیک عمق اړتیا له منځه ولاړه شی . طالبان په افغانستان کې ستراتژیک عمق ته د رسیدو له پاره د پاکستان په لاس کې مهمه وسیله ده .
هسې لکه چې ګلبدین حکمتیار ، احمدشاه مسعود او ربانی د بهوټو په وخت کې پر سردار محمد داؤد خان د فشار آلې وې ، نن پر دې علاوه پاکستان طالبان هم د افغانستان او دوکتور اشرف غنی پر ضد د فشار د وسیلې په توګه استعمالوي .
دا حقیقت چې مجاهدین او طالبان د پاکستان لاسپوڅي دی ، پاکستانی واکمنان یې حتی د پټولو هڅه هم نه کوي . د افغانانو او فلسطینیانو قاتل جنرال ضیاءالحق هر وخت ویل چې جهاد افغانستان دفاع پاکستان ده . تر ننه هم چې نږدې څلوېښت کاله د افغان ولس وینې توی شوې ، د پاکستان د دفاع ځواکونو په افغانستان کې سیاسی واک ولجه کړی دی . همدې ځواکونو په افغانستان کې د پاکستان د بې پایه مداخلو او رنګا رنګ لوبو زمینه برابره کړیده .
هېوادوال شاهد دي چې د دوکتور اشرف غنی دښمنان ډلې ډلې پاکستان ته ځي او پاکستانی واکمنو ته د وفاداری او دوستی ، همدارنګه د دوکتور غنی پر وړاندې د نه پخلاکیدونکی دښمنی ژمنې تازه کوي .
په وارو وارو جنرال مشرف ویلی دی چې » : جلال الدین حقانی ، ګلبدین حکمتیار ، احمدشاه مسعود ، ربانی ، ملاعمر او اسامه بن لادن زمونږ هیرو (اتلان) دی «. جنرال حمید ګل به ویل چې» : ګلبدین ، حقانی ، ربانی او ملاعمر تر ما ښه پاکستانیان دی «.
په دې کې شک نه شته چې زمونږ کور بهرنیانو وران کړ ، خو د داخلی دښمنانو له مرستې پرته زمونږ کور بهرنیانو نه شو ورانولای .
د امریکا متحده ایالاتو د تروریسم په نوم په افغانستان کې اتلس کاله جګړه وکړه ، افغان ولس سلګونه زره قربانیان ورکړل . امریکا د ملیاردونو ډالرو د لګښت ادعا کوي . خو هیڅکله یې د افغانانو دا چیغه وا نه اوریده چې پاکستان د تروریسم مور ده ، چې پاکستان د تروریسم د تولید فابریکه ده . چې د طالبانو ، القاعدې او انتحاریانو د روزنې مرکزونه په پاکستان کې دي . امریکایي ملیاردونه یې خلکو او حکومت ته نه بلکې خپلو جمعیتی اجنټانو ته ورکړی دی . امریکا تر پایه حتی د کرزی مفسد حکومت ته هم پیسې نه ورکولې ، بلکې هغو انجوګانو ته یې ورکولې چې جمعیتی ، شورای نظاری او وحدتی چورګرو به د امریکائیانو په ګډون چلولې .
راځو د سولې مذاکراتو ته : اوس بیا امریکائیان ، پاکستانیان ، طالبان او داخلی جهادی تنظیمونه د کرزی او عبدالله عبدالله په شمول ټول یوه خبره کوي (د تاوتریخوالی د کمښت خبره) خو افغان ولس او دوکتور غنی بله خبره کوي (اوربند) . طالبانو ته د نن ورځې انتحاری برید ۱۱ فبروری ۲۰۲۰ د تاؤتریخوالی کمښت ښکاری ، امریکائیانو او پاکستانیانوته یوه عادی چاره ښکاری ، کرزی او عبدالله عبدالله ته خو هیڅ کومه مانا نه لري . خو بیه یې افغان کورنیو پرې کړه . دایمي متحدینو بیا د هر بل وخت په څېر افغان کورنۍ د غم په ټغر کېنولې .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

البته د سولې د مذاکراتو په اړه د افغان حکومت دریځ مالوم دی . د لومړی ځل د پاره دوکتور غنی د کابل پروسې ته وویل چې افغان حکومت د سولې له پاره د طالبانو سره بی قید و شرطه مذاکراتو ته تیار دی . خو د مذاکراتو د ښه او ډاډه پرمختګ او له جګړې نه دایمی سولې ته د تېریدو له پاره اوربند اړین بولي . بی له شکه د دوکتور غنی دریځ زمونږ د مظلوم او جګړې ځپلی ولس دریځ دی .
د پاکستان او ایران نوکرې ډلې ارګ ګواښي چې د اوربند له وړاندیز نه تېر شی او د طالبانو د محدودې یا کمې مرګ ژوبلې وړاندیز ومني . د افغانستان د تراژیدیو اتلان اوربند تیری او زیاتی بولي . خو اوربند سولې ته د تېریدو پل دی . کله چې توپک غږیږی ، نور غږونه نه اوریدل کیږي . هلته چې جګړه وی د سولې درک نه وي . اوربند د سولې مذاکرات آسانه کوي . د مذاکراتو په لړ کې خونړی بریدونه د مذاکراتو نازک حالت سخت زیانمن کولای شی . اوربند سولې ته ژمنتیا او د تاو تریخوالی د کمښت پنجابی – طالبی طرحه جنګ ته د اوښتلو نږدې او آسانه لاره ده .
د جنګ د یوه لوري نه منل ، د مذاکراتو نه منل او د جګړې د دوام په مانا دی . اوسنی جنګ دوه داخلی اړخه لری: افغان دولت او طالبان . افغان دولت یو حقوقی شخصیت دی چې نړیوال یې په رسمیت پیژني او عملا د پاکستان او طالبانو د ضد جګړې رهبری په غاړه لري . که طالب د یوې تروریستی انتحاری ډلې په توګه د آی اس آی په لارښونه له دې واقعیت سترګې پټوي ، مانا دا چې د سولې نیت نه لري .
دا چې داخلی نوکرې ډلې د افغان حکومت رول په مذاکراتو کې نه منی او یا یې رول د ډلو کچې ته راټیټوی ، دقیقا د آی اس آی ، طالبانو او ضمیر کابولوف له افغان ضد دریځه ملاتړ کوي .
دا ډلې او شخصیتونه ملی صبغه نه لري او د افغان ملی حاکمیت پر ضد د دښمن د جبهې عناصر دی .
د سولې د پاره د ملی اجماع را منځته کیدل اړین دی . خو د پردو نوکران د ملی اجماع برخه کیدای نه شی . دوی لاپې کوی ، خو آسمان چې څومره غریږي ، هومره وریږي نه !
پر پاکستان او طالبانو پرلپسې نړیوال ، سیمه ایز ، ملی-افغانی فشارونه سوله ممکن کولای شی .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ